انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۱/۲۲

# دلیل این تغییر چیست؟

«چرا مسلمانان از آن بلندیهای پرافتخار پائین لغزیدند و امروز در هر کوی و برزن تروریست و آدم کش و بی خبر از مدنیت و دشمن صلح و طالب جنگ شناخته می شوند؟»



دا هغه یو څو جملې دی چې د ښاغلي سیدهاشم سدید صاحب د لیکنې چې د پورتني عنوان لاندې د ۲۰۱۷ کال په لومړی ورځ د افغان ـ جرمن د پورتال په پاڼو کې نشر شوی او لیکنه په همدې پورته جملو سره پیل شویده. اوس همدا د بحث او د پراخه خیرنې غوښتونکی مطلب د آریانا افغانستان آنلاین په پاڼو کې نشر ته سپارل شوی او ښاغلی سدید صاحب د اسلامی تمدن په هکله په دې لیکنه کې په مستنده توګه ډیر په زړه پورې معلومات وړاندې کړیدی او د لیکنې په آخر کې یې لیکلې چې ولې دا ټول تغییرات په اسلامی نړۍ کې راغلی او ولې د اسلامی نړۍ ټول پخوانی ویاړونه د ننني وحشت په لمبو کې سوځی؟ همدا رنګه ښاغلی سدید صاحب د پخوا په څیر د خپلې لیکنې په وروستیو کې د ټولو درنو لوستونکو نه غوښتې دی چې ددې تغییر په هکله خپل نظر څرګند او نشر ته یې وسپاری ترڅو هغه (سدید صاحب) د لیکنې په بله برخه کې د لوستونکو نظریات د خپل نظر سره یو ځای او د پوهاوی د پاره په دې سایټ کې هم نشر ته وسپاری. د سدید صاحب، همدې غوښتنې ته په درناوی ماهم ځان ته جرئت ورکړ چې په دې هکله خپل نظر وړاندې کړم. زما نظر د افغان ـ جرمن په سایټ کې نشر شو، اوس چې په دې سایت یعنی آریانا افغانستان آنلاین کې هم نشر شویدی، یوه محترم دوست راته و غوښتل چې په دې هکله خپل نظر دی درانه سایټ ته هم واستوم تر څو نور لوستونکی وطنوال هم هغه ولولی او که یې غوښتې وی خپل نظر هم ورسره مل او د جناب (سدید) صاحب غوښتنې ته ځواب ورکړی.

زه دلته په پخوانی لیکنه د لږ څه نورو زیاتونو سره ددې تغییر او بدلون په هکله خپل نظر داسی وړاندی کوم:

په اسلامی نړۍ کی دا تغییرات راتلل ممکن ګڼ هسی دلایل ولری چې زه پری نه پوهیږم، خو هغه لاملونه چې ماته په



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

دی برخه کی مؤثر بریښي په دی توګه یی وړاندی کوم او له محترمو لوستونکو نه هیله دا لرم چی زما نظریاتو ته بله بڼه ورنکړی او نوری ټاپی را باندی ونه لګوی:

لومړی: تر کومه ځایه چی پوهیږم د قرآن عظیم الشأن د نصوصو او ار شاداتو پر ځای په نبوی احادیثو باندی (چی د دی احادیثو پوره صحت هم نه دی معلوم او د قال قال قال قال........تر څلورم، پنځم، شپږم او اوم راوی پوری خبره اوږدیږی) زیات عمل کیږی او همدا رنګه په قرآن عظیم الشأن کی هم هغه احکام چی د ټول بشریت په ښګینه حکم کوی لکه (په صلحه کی خیر دی)، الله ج (رب العالمین دی) ، (د یوه بی ګناه انسان وژل د ټولی دنیا وژل دی)، (که څوک یو بی ګناه انسان و وژنی ځای په دوزخ کی دی)، ( الله ج په ټول مخلوق مهربانه دی)، (الله ج د هرچا سره په ځانګړی توګه د زری زری حساب کوی) ، (عزت او ذلت ورکول د خدای ج کاردی)، ( ظالم د خدای ج دښمن دی) او په سلګونو داسی نورو ارشاداتو باندی عمل نه کیږی چی په هغه کی نه جنس مطرح وی، نه عقیده او باور، نه نژاد او قوم، نه ژبه او سیمه او بالاخره نه مال دولت او غربت. الله ج ته ډیر قریب انسان هغه څوک دی چی د ښی تقوا خاوند وی، نه هغه څوک چی د ډیر قدرت، ډیرمال، ډیر لښکر، لوړی دبدبی، لوی نوم او داسی نورو لویو او لویو خاوند وی. چی له بده مرغه د اسلام د مبارک دین په پیروانو کی دا ځیزونه له ډیری پخوانی زمانی څخه له پامه لویدلی دی. په مسلمانانو کی د اسلام د غوښتنو خلاف د مرستی، همکاری، لاس ورکونی او یو د بل د تکمیلونی په نسبت، د کرکې، ویری او یو د بل د تخریب او بربادی روحیه پیاوړی ده. هر دین، هر قوم او هره ډله چی په دا رنګه منفی او د نیک مرغی په ضد امراضو اخته شی، نو ټولنیز ژوند به یی خامخا د ذلت او بربادی په لوری ځی او د دا ډول تغییراتو د مزی څکونکی به ګرځی.

دویم: د اسلام په دین کی د شعیه او سُنی د مذهبونو جوړیدنه او بیا په سُنی طریقه کی د څلورو ځانګړو مذهبونو را منځ ته کیدل او را وروسته د نورو لویو او وړو مذهبونو جوړیدل، خصوصاُ د وهابیت د مذهب او ډیر خشنی طریقی را منځ ته کیدل د محمد بن عبدالوهاب (۱۷۰۳ نه تر ۱۷۹۲) په ذریعه او بیا د محمد بن سعود سره د یوه توافق له مخی په ننني سعودی عربستان کی د سیاسی قدرت د حصول له لاری په ټول عربستان کی دا مذهب خپور او ریښی یی را ټینګی شوی. محمد بن عبدالوهاب په لومړی سر کی په شدیده توګه د احمد بن حنبل (۷۸۰ ــ ۸۵۵ م) او د هغه د شاګرانو لکه ابو داود سجستانی، محمد بن اسماعیل، مسلم بن حجاج او نورو د افکارو د تاثیر لاندی راغی او وروسته یی د ابن تیمیه (۱۲۶۳ ـ ۱۳۲۸ م) د اعتقاداتو پیرو شو. د وهابیت په طریقه کی ټولو هغو کسانو ته کافر ویل کیږی چی د دوی د مذهب پیرو نه وی. د نورو مذهبونو پیروان د دوی په نظر کافردی د هغوی د سر و مال د له منځه وړل او غصب دوی ته روا دی او که دوی وربانده په جګړه کی بری و مومی نارینه غلامان او ښځی یی وینځی نیولی او هم یی په بازار کی خرڅولی شی. د دوی په مذهب کی د مقبرو ورانول په دی بهانه چی خلک ورنه مدد غواړی او دا عمل بت پرستی ده جواز لری. محترم کریم پیکار پامیر دخپل اثر (وهابیت و تروریزم جهانی) کی د انګریز محقق رابرت دریفوس له قوله په ۲۶ مخ کی داسی لیکی: «در حمله با کربلا و سایر شهرهای عربستان و عراق با بلند کردن شعار (اقتلوالمشرکین) این دو متحد سیاسی ـ مذهبی، تنها در سال های ۱۹۲۰م با اقدامات مشترک و بیرحمانهٔ نظامی خویش چهارصد هزار انسان را به قتل رسانیدند، چهل هزار نفر را به پای چوبه دار کشانیدند و دست و پای سه صد هزار نفر را قطع کردند...» دی افراطی ډلی د زیاتو خلکو د وژلو او د بی شمیره مقدسو اماکنو له ورانولو وروسته په نوره نړی کی هم ورو ورو ریښی و غزولی.

دا تر ټولو قوی او د زیاتو مالی امکاناتو لرونکی مذهبی جوړښت همدا اوس په ټوله دنیا کی سلګونه نشراتی او تبلیغاتی مرکزونه او د مغز پریمینځلو مرکزونه لری. د معلوماتو له مخی یواځی په سعودی عربستان کی ۱۱۷ د کتابونو د چاپ

او نشراتو ستری دستګاوی موجودی دی. ددی سیاسی ـ مذهبی دکتاتورئ د فشار لاندی د سعودی عربستان په ټوله جغرافیه کی هیڅوک، مذهبی ازادی، د بیان آزادی، سیاسی ازادی، هنری او فرهنګی آزادی او بالاخره تفریحی آزادی نه لری او خصوصاً ښځینه نسل خو د هرڅه حتی د موټر چلولو نه هم محروم دی. وهابی مذهب د روسیی د چیچنیا او قفقاز په سیمو او همدا رنګه د پخوانی شوروی اتحاد له ویجاړیدو وروسته د منځنی اسیا په هیوادونو کی په لسګونو د افراطی اسلامی ډلی ټپلی په پښو ودرولی دی چی د نوری نړئ د پاره یی درد سر جوړ کړیدی.

دریم: د اسلام د مقدس دین د اصولو نه د بیرون تللو بل لوی د لیل د همدی سلفی طریقی د افراطیت دلاری تعقیب د هندوستان په لویه وچه کی د شاه ولی الله دهلوی (۱۷۰۳ ـ ۱۷۶۲)، وروسته د هغه د زوی شاه عبدالله (۱۷۶۴ ـ ۱۸۲۴ م) په ذریعه صورت ونیوه تر څو چی په ۱۸۶۷م د یو شمیر هندوستانی عالمانو لکه محمد قاسم نانوتوی، سید احمد کنکوهی، ابوالحسن ندوی، انور شاه کشمیری او محدث حبیب الرحمان الاعظمی په هلو ځلو د ډهلی په نوی کیلو متری کی د دیوبند په سیمه کی (دیو بندی) مدرسو تهداب او اساس کیښودل شو. د دی مدرسو شمیر په پرله پسی توګه زیاتیده او په راز راز نومونو یی شمیر په ۱۹۸۴ م کال کی ۱۰۹۷ ته ورسیده.(اوریدلی می دی چی اوس د دی مدرسو شمیر یواځی په پاکستان کی پنځه لس زرو ته رسیدلی دی)، د دی مدرسو د فعالیت ساحه یواځی هند او پاکستان نه بلکی د افغانستان په ګډون، د منځنی آسیا هیوادونه، شرقی ایران، اندونیزیا، بنګله دیش، برما، مالیزیا، تایلیند، فلیپن، ترکیه، جاپان، تانزانیا، او کندا، زمبیا، او نورو آسیا یی او اروپا یی هیوادونو کی خصوصاُ د جوماعت تبلیغ په برخه کی د اروپای او امریکا یی هیوادونو په ګډون چی ویل کیږ مر کز یی په انګلستان کی دی، فعالیت لری. تر کومه ځایه چی معلومات شته اوسنی ټولی تروریستی ډلی او ترهګر ځواکونه لکه القاعده، بوکو حرام، طالبان، الشباب، النصره، داعش، لشکر طیبه، سپاه صحابه او نور بی شمیره سازمانونه چی ټول د سعودی عربستان او پاکستان د دولتونو له خوا د نوری نړئ خصوصاُ امریکا او انګلستان اود فارس د خلیج د شیخ نشینو امارتونو له نیغی همکاری نه برخه من دی. همدارنګه د امت مسلمه د دویمی برخی چی د اهل تشیع مذهبی ډلی او ګروپونه دی، په عین شکل د سنی افراطی ډلو په مقابل کی، چی په سلفیزم او و هابیزم پوری تړلی دی د نړئ په بیلا بیلو برخو کی تخریبی اعمال سرته رسوی چی په مستقیماً د ایران د دولت له حمایی څخه برخوداره دی لکه په لبنان کی د حزب الله ډله او په سوریه کی د بشار اسد ملاتړی اسلامی ګروپونه. ویل کیږی چی ایران همدا اوس په ټوله نړی کی د سلو نه د زیاتو تروریستی ډلو ملاتړ د ځان سره لری.)

دغو مذهبی مرکزونو او د مذهبی زده کړو په زرګونو مدرسو ته د ټولی اسلامی نړی نه هغه ماشومان او تنکی ځوانان (پیغلي او زلمیان) را جزبیږی چی د مور او پلار د مینی، روزنی او پالنی نه محروم شوی وی، یا یتیمان وی او یا دومره بیوزلی او ناتوان وی چی د نورو زده کړو د پاره ټولی موجودی دروازی یی په مخ تړلي وي. اوس نو د یوی شیبي د پاره فکر وکړی هسی یو ماشوم چی په ټول عمر کی مینه نه وی لیدلی او هر وخت رټل شوی وی، د داسی حرفوی قاتلانو او جنایتکارانو لاس ته ورشی چی بی له خپلی عقیدی له پیروانو څخه ورته نور ټول انسانان کافر، بی دین او لامذهب ښکاری او د دوی مذهبی مشرانو او مفتیانو لا پخوا ورته د دی کفارو د وژلو فتواوی صادری کړی وی، له هغه نه به څه جوړیږی او څومره به د اسلام د دین په ګټه تری کار واخستل شي؟؟ او بیا چی په دی مدرسو کی ورته داسی درس ورکړل شی، د مثال په توګه د ریاضی د مضمون په زده کړه کی داسی مثالونه:(که یو مجاهد په هر ساعت کی پنځه کافر و وژنی نو لس تنه مجاهدین به په یوه ساعت کی څو تنه کفار مردار کاندی؟) په همدی ډول روزنی او تر بیی سره په لسګونو نړیوالو بربادونکو سازمانونو کی ددی ځوانانو تنظیمیدل به همدا ډول تغیر لکه جناب (سدید) صاحب

پوښتنه کوی نه را منځ ته کیږی؟ دوی به خپله د تمدن او پر مختګ په هکله څومره فکر وکړلی شی او څومره به نورو ته دا زمینه برابره کړی چی د پرمختګ او تمدن په باره کی یا فکر او یا عمل وکړی؟

څلورم: د ساړه جنګ په توله موده کی امپریالستی هیوادونو د دی د پاره چی د شوروی اتحاد د کمونستی افکارو د تر ویج مخه د دریمی نړی په هیوادونو کی ونیسی، د مسلمانو ملتونو د اسلامی احساساتو نه له یوی خوا او د دوی د سادګی او بی خبری نه له بلی خوا ډیره لویه ګټه او چته کړه او بلاخره په دی و توانیده چی شوروی اتحاد او د هغه کمونستی خطر د تل لپاره له خپلی مخی نه لری کړی. خو دا یی نه وه سنجولی چی د افراطی اسلامستانو سره مرسته اوله دوی څخه د ځان په ګټه کار اخستنه همدی متل ته پاتی کیږی چی (له باران و تښتیده خو د ناوی لاندی ودریده). همدا ډلی چی دوی را پیداکړی، را لوی کړی او را پارولی دی، او س د همدوی سره مخامخ شویدی، هم یی اسلامی تمدن ته اور واچوه او هم یی د غربی نړی د انسان له ستر‌ګو نه خوب اولوزولی دی. چین او روسیی هم اوس د غربی نړی په څیر دی د اور لوبی ته د را داخلیدو شوق کړیدی، او پاکستان ور پسی دی چی دواړه (چین او روسیه) هر څومر ژر چی کیږی په دی لوبه کی را ګډ کړی، وګورو چی نتیجه به یی څرنګه را وځی؟

پنځم: د دی ټولو نا انډولیو سره چی د اسلام د دین په اصلی جوړښت کی یا په عمدی او قصدی ډول د هغه د دښمنانو او یا ناپوهو دوستانو له خوا را منځ ته شوی دی او د اسلامی تمدن دور ته یی د پای ټکی ایښی دی او دا دین یی د نړی د نورو ادیانو په منځ کی د یو خشن، ویرونکی او د قهر، کرکی او شکنجو نه ډک معرفی کړیدی او د مسلمان امت نه یی د سالم فکر کولو او جوړونکی عمل توان اخستی دی، یوه بله خبره هم زما په نظر د تامل وړده او هغه داچی: تمدن، پرمختګ، کشفیات او د ژوندانه د ښه والی د وسایلو تولید په کوم خاص دین یا مذهب، نژاد یا قوم او ډلی یا سازمان پوری اړه نه لری، بلکی هر پرمختګ او هر نوی کشف د ټولنیز وړاندی تګ د عمومی پروسی یوه برخه ده چی د امکاناتو په برابریدو سره د هر مذهب پیروان او د هر نژاد پوری تړلی انسانان پکی ونده اخلی او ژوند ته نوی بڼه ورکوی. په روانه زمانه کی د انسانانو تر منځ ټولیزی اړیکی د هرډول عقیدوی او نژادی اړیکو نه ماته قوی ښکاری او د بشریت په سر نازله بد مرغي هم يواځي د مسلمانانو د ناپوهی د لاسه نه ده بلکی په دی بدمرغیو کی د ټولو عقایدو افراطي ډلی، که مسلمانان دی، که یهودان دی، که عیسویان دی، که هندوان دی که بودایان دی او که نور او نور دی تر یوه حده برخه لری او د انسانی ژوند د جوړښت په لاره کی خنډونه جوړوی او جوړولی شی.

محترم سدید صاحب ! دا و په لنډه توګه هغه یو څو لا ملونه چی ماته د دی تغیر په راتلوکی مؤثر بریښی. که ستاسو له نظره سم نه وی. زه پری ځکه نه خواشینی کیږم چی د هر چا دید د داسی پدیدو په هکله تفاوت لری، ممکن څه نور د لایل تردی مؤثروی چی زما فکر به ورته نه رسیدلی. په درناوی بری دی برخه.

جناب سدید صاحب ! زه ډیره بخښنه غواړم چی تاسو رانه غوښتی و چی زه دا لیکنه په دری ژبه هم واړوم او خپره یی کړم، ګټه به یی زیاته وی. زه هم پوهیدلی شم چی ستاسو نظر بیخی سم دی خو زه ویره لرم چی که دری ته یی واړوم زما دری ژبه دومره پخه نه ده چی د لیکنی په نورم برابره وی. او بله داچی زه دو مره پوهیږم چی د هیواد نه بهر نوی ځوانان نه په پښتو سم پوهیږی او په دری او په هیواد کی د ننه ځوان نسل او همدا رنګه د هیواد نه بهر د تیرو نسلونو د قلم والا دوستان انشاء الله چی هم په دری پوهیږی او هم په پښتو نو هیله ده چی معزرت می ومنی. په درناوی.

پای.